# د سرحدونو څخه تيريدل

## د افغان ښځو او د بشري حقونو مدافعينو لپاره لارښود

دنقل مکان لارښود
ستمبر 2022

MADRE

MADRE د افغانستان د بشري حقونو د همغږۍ د میکانیزم (AHRCM) غړی دی چې د افغانستان د بشري حقونو پر بنسټ د CSOs او نړیوالو سازمانونو یوه ټولنه ده چې په افغانستان کې د 2021 کال د اګست څخه وروسته د ښځو د بشري حقونو د مدافعینو مخ په وړاندې راپورته کیدونکو ننګونو ته د ځواب ویلو لپاره رامینځته شوی او د دې ټولنی په غړو کې فریډم هاوس، د افغانستان د مدني ټولنې فورم د بشري حقونو نړیوال فدراسیون، MADRE، او د خونديتوب او خطر کمولو اداره شامل دي او MADRE د فریډم هاوس او خلاصې ټولنې (Freedom House) بنسټونو چې AHRCM سره د دوی د ملاتړ د برخې په توګه د دې لارښود د تمویل لپاره مننه کوی.

MADRE همدارنګه غواړي د لارښود بیاکتنې لپاره د ګارډن کورټ چیمبرز څخه د لوئس هوپر او مها سردار څخه هم مننه وکړي

MADRE غواړي ټولو هغو اشخاصو او ادارو ته زنګ ووهي چې که چیری تاسو د غیر دولتي سازمانونو یا د بشردوستانه پیرول، بیا میشتیدنې، او نورو دولتي پروګرامونو څخه خبر یاست چې اوس مهال د ښځو د بشري حقونو مدافعینو W/HRDs لپاره شتون ولري نو مهرباني وکړئ موږ ته د advocacy@madre.org بریښنالیک له لارې خبر راکړئ ترڅو یی موږ د دې لارښود په راتلونکو نسخو یعنی اپډیټ ورژن کې شامل کړو.
له تاسي څخه ډېره زیاته مننه!

# دموضوعاتو فهرست


موخه Error! Bookmark not defined.

اسناد Error! Bookmark not defined.

کوم اسناد اړين دي؟ Error! Bookmark not defined.
پيژندنه او د اصلي ځای او اوسيدو ځای Error! Bookmark not defined.
مدني حالت او د کورنی اړوند اسناد 6
د مخکينی دندي ثبوت Error! Bookmark not defined.
د غړيتوب اسناد Error! Bookmark not defined.
د تيښتی لاملونه Error! Bookmark not defined.

څنګه او چيرته د اسنادو ذخيره کول 7

ويزی 8

په پاسپورټ باندې د ټک او را ټک ټاپی 9

له پولو څخه د تيريدو لپاره د درغليو طرحو څخه ډډه کول 10

د ويزې اړوند د درغلی طرحی 10

د قانوني مشاورينو يا استازو پورې اړوند د درغليو طرحی 11

د پولی څخه د تيريدو په وخت کې د بريښنايی معلوماتو ساتنه 12

د بشري حقونو د مدافعينو لپاره چی د تهديد ورته راجع وی د معلوماتو باوری سرچينی 13

د غير دولتی ادارو سرچيني 13
د افغان پرو بونو نوښت 13
د افغانانو لپاره د فرانسی پرو بونو اتحاديه 13
د افغان کډوالو لپاره د آلمان اتحاديه 13
د پناه غوښتني په اړه د اروپايی ټولني حقوقی شبکه 14
د جلاوطنی د مرستي لاين 14
له کډوالو سره د مرستی نړيواله پروژه 14
د افغان کډوالو لپاره د ايټاليا پرو بونو همکاري (CIPBRA) 15
د مدافعينو او د لومړی کرښي د مدافعينو ساتنه وکړئ 15
د خونديتوب او خطر کمولو اداره (SRMO) 15
د کاناډا د بار ټولنه 15
د پناه غوښتونکو او مهاجرينو لپاره د متحده ايالاتو کميټه 15

نړيوالي او دولتي اداري چي د پناه غوښتونکو په ثبت او ملاتړ کي دخيلی دی 16
د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کميشنری 16
د مهاجرت نړيوال سازمان 17
په ايران کې د پناه غوښتونکو ثبتول: د بهرنيانو او بهرنيو مهاجرينو د چارو اداره - (BAFIA) ايران 17
په پاکستان کې د پناه غوښتونکو راجستريشن: SHARP او SEHER 17

په تاجکستان کې د پناه غوښتونکو ثبتول: د تابعیت ریاست او د کورنیو چارو وزارت د پاسپورت د ثبتولو په خدمت کې له کډوالو سره کار ځانګه 18
په ترکمنستان کې د پناه غوښتونکو نوم لیکنه : د مهاجرت دولتی اداره 18

بشردوستانه پیرول، بیا میشتیدنه او نور حکومتي پروګرامونه - د ځینو لارو په اړه معلومات چې په احتمالي توګه د بشري حقونو مدافعینو لپاره شتون لري 19
کاناډا 19
جرمنی 19
انګلستان 19
متحده ایالات 20

# موخه یا هدف

ډیری وختونه د بشري حقونو مدافعین، په شمول د ښځو د بشري حقونو مدافعین (WHRDs) مخکی له دی چی ګواښونه او خطرونه ورته پیدا شی د پلان کولو یا چمتو کولو لپاره وخت نه لري او دوی د خوندیتوب لپاره د سرحد څخه تیریدو پرته بله لاره نه لري. د دې لارښود موخه دا ده چې په اوسني شرایطو کې د پولو د تیریدو د پروسې په اړه د افغانستان د بشري حقونو مدافعینو پوهاوی زیات کړي او همدارنګه د سرحدونو د تیریدلو په اړه د اړونده معلوماتو لپاره د باور وړ سرچینې چمتو کوی. لمړی برخه دا په ګوته کوي چې کوم اسناد ممکن د پولې څخه تیریدو او په بل هیواد کې د پاتې کیدو په وخت کې اړین یا ګټور وي. دوهمه برخه کی دا بحث کیږی چې څنګه د درغلیو او چل وفریب څخه مخنیوی وشي چې د پولو څخه تیریدو او د کډوالی پروسیجرونو پورې تړاو لري. دریمه برخه د پولو څخه د تیریدو په وخت کې د بریښنایی معلوماتو د خوندي کولو د څرنګوالي په اړه معلومات وړاندې کوي . څلورمه او اخری برخه د افغان بشري حقونو د تهدید شوی مدافعینو لپاره د معلوماتو او ملاتړ لپاره د باور وړ سرچینې په ګوته کوي.

د دې لارښود لیکوالان هغه لارې چارې په ګوته کوي چې په ترڅ کې یې ځینو حکومتونو یا هیوادونو 2021 کال سخه را پدی خوا له افغانستان څخه د یوشمیر خلکو د ایستلو او بیا ځای پر ځای کولو پروګرامونه جوړ کړي دي. بالقوه ترلاسه کونکي هیوادونه د هغو کسانو لپاره په چټکی سره خپلې دروازې نه پرانیزي چې د تاوتریخوالي یا ځورونې له خطر سره مخ دي. د ترانزیتي هیوادونو پیچلي او بدلیدونکي ویزې او د ننوتلو مقررات هم ستونزې رامینځته کوي، دا وضعیت په ځانګړې توګه د Women Human Rights Defenders (WHRDs) لپاره چې په افغانستان کې بند پاتې دي له ننګونو ډک دی، ځکه چې د طالبانو لخوا د محرم (نارینه ساتونکي) مقررات له هیواد څخه د وتلو په لاره کې نور خنډونه زیاتوي.
د دې ټولو خنډونو سره سره بیا هم د بشري حقونو مدافعین باید د تیښتی لار ولټوی. دی لارښود دهغو کسانو لپاره ځینې لومړنې معلومات او سرچینې چمتو کړي څوک چې ځان پدې حالت کې وමومي.

**دا لارښود د قانوني مشورې ورکولو لپاره ندي. اوهمدارنګه دا د قانوني مشاور لپاره بدیل هم ندی. دا لارښود د عامه معلوماتو مجموعه ده او د مهاجرت هڅولو یا اسانتیا لپاره نه ده.**

# اسناد

په افغانستان کې د بشري حقونو مدافعین باید په پام کې ونیسي چې له پولې څخه د تیریدو په صورت کې کومو اسنادو ته اړتیا وي. د امکان په صورت کې دا مهمه ده چې ټول رسمي اسناد له ځانه سره ولرئ چې د سرحدي چارواکو لخوا د اسنادو غوښتنه کیږي ترڅو د پولو په نقطو او وروسته له نورو چاروکو سره د ستونزو په کمولو کې مرسته وکړي. همدارنګه دا هم مهمه دی چې اړوند اسناد په خوندي ځای کې ذخیره کړئ. لکه څنګه چې لاندې یادونه وشوه د اسنادو لیږدول ځینې وختونه د افرادو لپاره خطر رامینځته کولی شي نو دا مهمه ده چې د خطر ارزونه په هر ډول پریکړه کې ترسره شي چې ایا دا ډول اسناد باید له ځانه سره یوړل شی او کنه.

## کوم اسناد اړین دي؟

### پیژندنه او د اصلي ځای او اوسیدو ځای

د هغو خلکو لپاره چي د پولو څخه د تیریدو پلان لري د دولت لخوا صادر شوي هر ډول اسناد دی راوړي چې د دوی د پیژندني لپاره اجازه ورکوي خورا مهم دي. ډیری هیوادونه د خلکو غواړي چې د خپل هویت ثبوت ورته وښيي سرحدي چاراوکي د پاسپورټونو غوښتنه کوي مګر نور اسناد لکه د ملي هويت کارتونه چې (په افغانستان کې د تذکرې په نوم پیژندل کیږي) یا د زیږون سندونه هم د چارواکو لپاره د هویت ثبوت کیدی شي. د پیژند ګلوی د اسنادو سره یو ځای هغه اسناد چې د زیږیدو ځای او د استوګنې ځای ښیی ډېر مهم دی.

همدارنګه داسی اسناد لکه د روغتون کارتونه، د ښوونځی کارتونه، یا د سیاسی، مذهبی، یا انجمنونو لپاره د غړیتوب کارتونه هم کیدای شی مرسته کوونکی وی. څکه چې پورته ذکر شوی اسنادونه کولی شي چې د یو چا هویت او اصلي ځای یا د اوسیدو ځای تایید کړي یا حتی د یو شخص د هویت او اصلیت په رامینځته کولو کې مرسته وکړي کله چې نور اسناد شتون نلري. دا اسناد د نړیوالي پولې څخه د تیریدو په وخت کې د هویت رسمي ثبوت نه ګڼل کیږي مګر ممکن په بهرني هیواد کې د پناه غوښتنې یا بل ډول قانوني استوګنې لپاره اړونده وي. او همدارنګه دا مهمه ده چې یادونه وکړو چې کاغذی اسناد د هیوادونو لپاره د پیژند ګلوی د تصدیق لپاره یوازینی لاره نه ده. هیوادونه کولای شی د بایومیټریک ډاټا ته هم لاسرسی پیدا کړی او یا هم د خلکو د ژوند او د شرایطو په معلوماتو باندی تکیه وکړی، ځینې وختونه به خلک نه شی کولای چې کوم اسناد له ځان سره ولری او د دولتی ادارو له لارې د کاپی ترلاسه کول ممکن ناشونی وی، افغانی ښځې او نجونې په ځانګړې توګه د هویت د اسنادو د ترلاسه کولو په برخه کې له زیاتو خنډونو سره مخ دي. هغه خلک چې په ترانزیت کې دي کولی شي د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمیشنرۍ (UNHCR) سره اړیکه ونیسي. یا د مهاجرت نړیوال سازمان (IOM) د اسنادو او د هویت تصدیق کولو په اړه د ملاتړ لپاره (لاندې اړیکې).

### مدني حالت او د کورنۍ اړوند اسناد

د مدني حالت او د کورنۍ اړیکو په اړه اسناد هم مهم دي او کله چې د کورنۍ غړی په ګډه له یوې پولې څخه اوړی یا تیریږی ملی پیژند پاڼي د اړیکو د ثبوت په توګه کارول کیدای شی څکه چې خلک په کارتونو کې د پلار نوم لری. په افغانستان کې د زیږون سندونه او د واده سندونه د غوښتنې سره سم کولا شي چې ترلاسه شی. دا اسناد هم د اړیکو ثبوت کیدی شي. او دا له چارواکو سره مرسته کوي چې د مشروع کورنیو او احتمالي قاچاق وړونکو او یا هم انسان تښتونکو ترمنځ توپیر وکړي او د دې اسنادو درلودل د کورنۍ د بیا یوځای کیدو یا د کډوالۍ اړوند نورو پروسیجرونو لپاره هم خورا مهم دي د کورنۍ عکسونه ممکن د اړیکو ثابتولو لپاره هم اړین وي. بیا هم د خطر ارزونه د دې ډول اسنادو یا عکسونو د وړلو په اړه په هر ډول پریکړه کې مهم دی، د هغو خلکو د خوندیتوب په پام کې نیول چې نومونه یا عکسونه یې اخیستل

شوی دی. اوهمدارنګه د مړيني سندونه ممکن د کورنی اړيکي يا د يو چا د مړيني نيټه ښودلو لپاره هم مهم وي او ديته په عمده توګه په هغه وخت کی اړتيا پيدا کيږی کله چي د شخص مړينه د پولو څخه د تيريدود پريکړی پوری تړلي وي.

### د مخکينی دندې ثبوت

نور اړوند اسناد د مخکينی دندې ثبوت کيدی شي د افغانستان په قضيه کي د بشري حقونو د مدافعينو، ژورناليستانو او نورو د کار له امله د زور زياتي راپورونه ورکړل شوي دي. د هغو کسانو لپاره چي د ځورنی څخه تښتي، د دوی د مخکينی دندې اسناد ممکن د يوې ډلي سره د دوی د تړاو تصديق کولو کي مرسته وکړي هغوی چي په خطر کي وي.

### د غړيتوب اسناد

د هغو خلکو لپاره چي د سياسي ګوند، مذهبي جماعت، يا هر ډول سازمان غړي دي په داسي ډلو کي د غړيتوب اسناد ښيي اړين وي ځکه چی دا غړيتوب ممکن د دوی له پريکړې سره تړلی وي کله چي له پولې سخه تيريږي.

### د تيښتی لاملونه

ګواښونه ناوړه ګټه اخيستنه او د بشري حقونو نوري سرغړوني هغه لاملونه دي چي خلک له خپل هيواد څخه د تيښتي پريکړه کوي. د مثال په توګه اسناد يا نور هغه مواد چي دا و ښيي چي ولي يو کس د خپل هيواد څخه تښتيدلی دا د هغه کس سره د پناه په غوښتلو کی مرسته کولی شي. او هغه اسناد چي په ليکلي بڼه د بريښناليک له لارې د متن له لارې د تليفون د پيغام او يا هم د نورو لارو ترلاسه شوي وی او ګواښونه و ښيي ډير مهم دی، که يو ځوک له يوې ځانګړې ډلي سره د تړاو له امله ګواښل شوی وي هر هغه اسناد چي يا يې د دی ډلي په وړاندې ګواښونه يا د دې ډلي سره د دوی د تړاو حقيقت څرګندوي هم اړين دي. د بېلګي په توګه که چا په يو لاريون کي برخه اخيستي وي او لاريون کوونکي د چارواکو له خوا ځورول شوي وي او يا ورسره ناوړه چلند شوی وي نو د لاريونونو په اړه خبري کليپونه اړين دي ځکه چي دا ښيي چي لاريونونه تر سره شوي او يا هم لاريون د چارواکو له لوري له تاوتريخوالي سره مخ شوی. نو که چيری تاسو داسي اسناد و لرئ تل هڅه وکړئ چي د دی اسنادو پاڼي يا برخي وساتئ چي نيټه پکی ښودل شوی وی. د مثال په توګه که تاسو د يوې ورځپاڼي څخه يو خبر کليپ لرئ نو هڅه وکړئ چي ټوله ورځپاڼه له ځان سره وساتئ او يا هم دا ډاډ ترلاسه کړئ چي ورځپاڼی کی د کليپ نيټه شته دی.

## څنګه او چيرته د اسنادو ذخيره کول

ډيری وختونه د پورته ذکر شويو اسنادو ليږدول يا وړل ممکن د هغو خلکو لپاره خطرونه رامينځته کړي چي د سرحدونو څخه تيريږي. سرحدي چارواکي يا نوري خواوې کولی شي د خلکو توکي وپلټي او توکي ضبط يا غلا کړي لکه لپ ټاپ يا سمارټ ټيليفونونه، دوی ممکن د پاسورډونو غوښتنه هم وکړي يا ممکن د خلکو څخه وغواړي چي د ګوتو په نښو يا فنګرپرينټ باندی خوندي شوي وسايل خلاص کړي. نو دا مهمه ده چي دا وڅيرو چي د اسنادو وړل څومره خوندی دی او د پولو د تګ راتګ نه وروسته دوی ته د لاسرسی تګلاره پلی کول مهم دی د دې لارښود دريم څپرکی د ډيجيټلی امنيتی خطرونو د کمولو لپاره ځيني عمومی ستراتيژيانی تر پوښښ لاندی نيولی.

کله چې د داسې اسنادو لیږدول غیر خوندي وي نو تاسو کولی شئ د دوی عکسونه واخلئ او په خوندي کلاوډ(Protected Cloud) کې یې ذخیره کړئ یا یې د یو کوډ شوي بریښنالیک (encrypted email) پټې څخه بل کوډ شوي(encrypted email) بریښنالیک ته واستوئ نو له دی سره به دا به اصلي اسنادو ته لاسرسی نه ورکوي مګر بیا هم کولی شي کاپي ته لاسرسی ولری. نو که چیری که دا لاره پرمخ بوځي نو دلته ځیني لاربښووني ویل شوی دي:

- د امکان تر حده د لوړ کیفیت عکسونه واخلئ او ډاډ ترلاسه کړئ چې د سند مینځپانګه په عکس کې په روښانه ډول لوستل کیدی شي.
- رنګه عکسونه واخلئ
- د اسنادو د مخ او شا عکسونه واخلئ که دا سند څو پاڼي ولري د هرې پاڼې یا ټولو اړوندو پاڼو عکسونه واخلئ. د سند په بشپړه توګه درلودل ممکن د سند د اعتبار په ټاکلو کې مرسته وکړي.
- عکسونه په غوره ممکنه ریزولوشن کې ذخیره کړئ یا ایمیل کړئ کله چې د بریښنالیک له لارې عکسونه واستول شي یا ولیږل شی دا ممکن پروسه نوره هم ستونزمنه کړي ځکه چې درانه فایلونه د بریښنالیکونو یا ایمیلونو سره ضمیمه کولو کې ستونزې را پیدا کوی نو له همدې امله که لازمه وي نو اوږده اسناد یا فایلونه دی په څو بریښنالیکونو کې واستول شي.
- د پاسورډ په ورکولو سره اسنادو ته لاسرسی کوډ یعنی(encrypted) کړئ او همدارنګه پټنوم یا پاسورډ د دریمي ډلې سره مه شریکوئ او په هر بریښنالیک کې یې مه لیکئ چې عکسونه لري.

د عکسونو ذخیره کولو یا لیږلو او د تصدیق د ترلاسه کولو وروسته د پولې تیریدو دمخه د خپلی وسیلی سخه ټول عکسونه حذف کړئ.

## ویزی

ډیری هیوادونه یوازې خلکو ته د ویزې سره د ننوتلو اجازه ورکوي لومړی ګام کله چې د پولې څخه تیریدو پلان لری دا چیک کول دي چې ایا ویزې ته اړتیا ده اوکنه، ځیني هیوادونه خلکو ته اجازه ورکوي چې د رارسیدو په وخت کې ویزې ترلاسه کړي دا پدې معنی چې یوځلی شخص په فزیکي توګه په پوله یا د ننوتلو ځای کی قرار ولری لکه هوایی ډګر. له بده مرغه د دې لاربښود له لیکلو سره سم ډیر لږ هیوادونه ډیری افغانانو ته د رارسیدو ویزې یعنی(Visa on Arrival) ورکوي نو له همدې امله سپارښتنه کیږي چې حتی کله چې د رسیدلو ویزه(Visa on Arrival) یوه لاره یعنی( Option) وي، خلک دی مخکې له مخکې د ویزې غوښتنه وکړي ځکه چې دا ممکن د پولی سخه د تیریدلو د بریالیتوب ښه چانس وی . نن سبا ډیری هیوادونه خلکو ته دا اجازه ورکوي چې د ویزې لپاره آنلاین درخواست وکړي او همدارنګه خلک کولی شي په قونسلګریو یا سفارتونو کې د ویزو غوښتنه وکړي.

تاسو ممکن د دې په اړه متضاد معلومات واورئ چې چیرته یا څنګه د ویزې لپاره غوښتنه وکړئ او کوم اسنادو ته اړتیا ده یا کومو فیسونو ته اړتیا لیدل کیدی شي او همدارنګه د ویزې د طرزالعملونو په اړه د باور وړ معلوماتو ترلاسه کولو لپاره غوره سرچینې د هیواد د بهرنیو چارو وزارت یا د کورنیو چارو وزارت رسمي ویب پاڼې دي. ډیری هیوادونه د ویزې د پروسیجرونو لپاره وقف شوي ویب پاڼې لري دا سایټونه معمولا د هیواد نبنه ښیي. نورې باورې سرچینې د مربوطه هیوادونو

قونسلګرۍ یا سفارتونه دي خو چې خوندي وي نو خلک کولی شي د معلوماتو ترلاسه کولو لپاره قونسلګرۍ یا سفارت ته زنګ ووهي یا د ملاقات مهالویش تنظیم کړي.

په سیمه کې د هیوادونو لپاره د ویزو غوښتنې رسمي سایټونه

- پاکستان : https://visa.nadra.gov.pk/
- ایران : https://evisa.mfa.ir/en/
- د تاجکستان آنلاین ویزې: https://www.evisa.tj/index.evisa.html#/ او عادی ویزو لپاره یې https://www.visa.gov.tj/index.html#/
- دازبکستان آنلاین ویزې: https://e-visa.gov.uz/main او د عادی ویزو لپاره یې https://visa.mfa.uz/site/index?language=en
- د هندوستان آنلاین ویزې: https://indianvisaonline.gov.in/evisa/tvoa.html

د دې هڅه کول چې یو هیواد پرته د ویزې او ځینو اړینو اسنادو چې د چارواکو لخوا ورته اړتیا وی ننوتل ممکن بدی پایلی ولری. هغه خلک چې غواړی د ځورونې شکنجې څخه وتښتي باید ونه نیول شي یا هم توقیف نشي کله چې دوی د خوندیتوب لپاره د پولې څخه تیریږي، له بده مرغه په دې برخه کې د حکومتونو کړنلارې تل ثابت یا روښانه نه وي او سرحدي چارواکي کولی شي د ننوتلو مخه ونیسي هغه کسان چې د تیریدو هڅه کوي د سرحد پورې مربوطه چارواکې یې مخه نیسی اوبیرته لیږی یا ډیپورټ کوی ، حتی هغه کسان هم چې د ځورنی شکنجې سخه غواړی تیښته وکړی او همدارنګه چاروکي ممکن هغه کس هم تورن کړي چې په غیرقانوني توګه هیواد ته د ننوتلو هڅه کوی چې په پایله کې کیدایشي ونیسی او بندی یی کړی. او په پوله کې د چاروکو لخوا اړین اسنادو پرته د پولې څخه د تیریدو هڅه ممکن خطرناکه وي.

## پاسپورټ باندی د دتک او راتګ مهرونه یا ټاپې

کله چې د پولې څخه تیریږي که امکان ولري او خوندي وي د هغه هیواد څخه د وتلو رسمي کډوالی ځای ته لاړ شئ چې تاسو یې پریږدئ او د استوګنې هیواد ته د ننوتلو رسمي کډوالی ځای ته ننوځې.  کله چې خلک یو هیواد پریږدي یا یو هیواد ته داخل شي د مهاجرت چاروکي به معمولاً د دوی پاسپور ټاپه کوي او ټاپې د دې ثبوت دی چې یو کس له یوې ځانګړې پولې څخه تیرشوی او په قانوني توګه یې تیر کړی. او همدارنګه دا مهمه ده چې د پولې څخه د تیریدو په وخت کې د تګ او راتګ ټاپه ترلاسه کړئ ځینې هیوادونه ممکن د بیا میشتیدنې موخو لپاره د یو شخص پاسپورټ باندی د تګ او را تګ ټاپو ته اړتیا ولری او هغه ټاپې  چې د پولې قانوني تیریدل ثابتوي د هغه خلکو لپاره اړین دي چې هڅه کوي له ګاونډي هیواد څخه دریم هیواد ته کډه وکړي.

# د پولي سخه د تيريدلو لپاره د درغليو طرحو سخه ډډه کول

ځيني هغه افغانان چې پلان لري د پولو په اوږدو کی هغه خواته تير شی د ويزو يا نورو مهاجرتی يا سفري اسنادو او يا هم د قانوني مشوري او نمايندگی مربوط د درغليو قرباني شوي دي. د درغليو د قرباني کيدو څخه د مخنيوي لپاره دا مهمه ده چې د باور وړ معلومات ترلاسه کړئ او کله چې د يوه بهرنی هيواد د ننوتلو لپاره د اسنادو د ترلاسه کولو خبره کيږی نو د هغه هيواد رسمی دولتی ويب پاڼي ډيری وخت د معلوماتو غوره سرچينه ده. او دا سايتونه يا ويب پاڼی معلومات وړاندې کوي او معمولا د تليفون شميره او يا هم بريښناليک پته چمتو کوي ترڅو کاروونکي ورسره اړيکه ونيسي.

## د ويزې اړوند د درغلۍ طرحی

لاندې معلومات ممکن تاسو سره د ويزې د غوښتنليک د پروسې په اړه د درغليو په مخنيوي کې مرسته وکړي:

- د ويزو صادرول د دولتونو ځانګړی حق دی دلال يا ټريول ايجنت چې د ويزو تنظيم کولو خدمت وړاندې کوي خو دوی هيڅکله نشي کولی چی د ويزو په صادرولو کی تضمين وکړي.
- د دلالانو يا ټريول انجسيانو څخه د مرستی غوښتلو دمخه د رسمي ويب پاڼو څخه د ويزې فيس په اړه معلومات ترلاسه کړئ ډيری هيوادونه په خپلو رسمي سايتونو کې د ويزې فيس په اړه معلومات چمتو کوي.
- هيوادونه په عمومی توګه د ويزو د پروسس لپاره يو وخت فيس اخلی که چيرې غوښتنه وشی چې د ويزې د غوښتنليک د پروسې په اوږدو کې څو ځله پيسي ورکړی نو په رسمی سايټ کې د غوښتنليک پروسه وګورئ تر څو د اړتياوو تصديق وکړی. او په ياد ولرئ چې په ځينو مواردو کې ويزې د وخت پورې اړه لري د ويزې ترلاسه کولو لپاره د اجباري پروسيجرونو څخه د تيريدو لپاره د جلا فيس غوښتنه کيدی شي لکه د روغتيا پورې اړوند فيس، بايومتريک، يا نورو پروسيجرونو فيس.
- د فيس تاديات د رسمي ويب پاڼو له لاری پروسس کيږي د فيس تاديات هيڅکله هم د تليفون ، متن پيغام ، يا بريښناليک له لارې نه پروسس کيږی.
- کله چې د ويزې غوښتنه رد شي هيوادونه د غوښتنليک لپاره تاديه يا تحويل شوي فيس بيرته نه ورکوي په هيڅ يا کومې ادارې باور مه کوئ چې ادعا کوي چې د هيواد لخوا اخيستل شوي ويزې فيس بيرته ورکول کيږي کله چې غوښتنليکونه ناکام شي يا رد شی او دا د هغو فيسونو څخه توپير لری چې د دلالانو يا اجينټانو له خوا د فيسونو لپاره چې د موازی اجباری کړنلارو ( لکه طبی ازموينو ) لپاره د ويزې د ترلاسه کولو لپاره غوښتل شوی وی هميشه د دلالانو يا اجنټانو سره او همدارنګه د موازي طرزالعمل مسؤل رسمي استازو سره وګورئ.
- د ويزو په اړه تولې اړيکي د رسمي چينلونو له لارې دي او کله چې بريښناليکونه ترلاسه کوئ، تل دا تاييد کړئ چې ايا دغه بريښناليک چې تاسو ترلاسه کړی د يوې رسمي دولتي اداري څخه راغلی.
- کله چې د ويزې لپاره غوښتنه وکړئ نو افراد د ويزې غوښتنليک د ريفرينس شميره ترلاسه کوي. د ورته ويزې غوښتنليک ريفرنس شميره بايد د ويزې غوښتنليک پروسې پورې مربوط په هر رسمي اړيکه کې را څرګند شي او که چيرې د ويزې د غوښتنليک په اړه کوم ايميلونه يا پيغامونه ترلاسه کړئ، نو تل دا وګورئ چې ايا پدې مسج کی د ريفرينس شميره کوم ځای ښکاره کيږی.
- هيڅکله هغه چاته رشوت مه ورکوئ چې د يوې رسمی اداری لپاره کار کوی او ضمانت درکوی چې تاسو ته به ويزه درکوی ځکه چې د ويزې طرزالعملونه تنظيم شوي او ځانګړي مرحلې تعقيبوي چې د ډيری ځانګو ښکيلتيا ته اړتيا لري او هيڅ يو فرد نشي کولی د ويزې صادرولو پريکړه وکړي د رشوت ورکول هم د دې لامل کيږي چې هر ډول ويزه چې صادر شوی هم وی په وروسته نيته کې لغوه شي.

د فیسونو یا بډو ورکولو په اړه ورته درغلۍ ممکن د پاسپورټونو، نورو سفري اسنادو، یا د کورنۍ د بیا یوځای کیدو پروسیجرونو کې هم پیښ شي د بیلګې په توګه پورتنۍ معلومات د مهاجرت د نورو اړوندو کړنلارو په اړه په پام کې نیول کیدای شي.

## د قانوني مشاورینو یا استازو پورې اړوند د درغلیو طرحې

درغلۍ کوونکي لوبغاړي کیدای شي په دروغو ادعا وکړي چې په ترانزیت کې د خلکو لپاره قانوني مشورې یا استازیتوب کولای شي. وکیلان او نور حقوقي استازي معمولا په رسمي لیستونو کې دي چې په عامه توګه شتون لري. که څوک ادعا کوي چې قانوني استازی یا د کډوالۍ استازی دی، وګورئ چې دوی په شته ویب پاڼو کې په کوم رسمي لیست کې دي او کنه. په رسمي ودانیو کې لکه قونسلګرۍ یا سفارتونو کې، د معلوماتو چمتو کول باید وړیا وي. هېڅکله هم کوم چارواکي یا نورو ته پیسې مه ورکوئ چې په قونسلګریو یا سفارتونو کې د معلوماتو چمتو کولو لپاره پیسې وغواړي.

# د پولې څخه د تیریدو په وخت کې د بریښنایی معلوماتو ساتنه

د پولو څخه د تیریدو په بهیر کې، چارواکي یا نور کولی شي بریښنايی وسایل لکه تلیفونونه، سمارټ فونونه، لپ ټاپونه، یا کیمرې واخلي یا یی ضبط کړي همدارنګه دا وسایل کیدایشی په لاره کې ورک شي او نورو ته دا اجازه ورکوي چې په احتمالی توګه په دوی کې زیرمه شوي ډاټا یا معلوماتو ته لاسرسی ومومي او د دې لپاره چې د چارواکو یا نورو خلکو دې معلوماتو ته د لاسرسي مخه ونیول شی خلک کولی شي د وسیلې معلوماتو ته د لاسرسي مخنیوي لپاره ګامونه پورته کړي او یا دوی کولی شي چې په وسیلو کې زیرمه شوي حساس معلومات حذف کړي. د خپلو معلوماتو د خوندی کولو لپاره ډاډ ترلاسه کړئ چې ستاسو ټول وسایل د پاسورډ په واسطه خوندی دی دا په دې مانا چې یو پاسورډ باید داخل شی تر څو وسیله ته لاسرسی ولری هغه پاسورډونه چې د کوچنیو او لویو تورو ، شمیرو او سمبولونو یو ترکیب لری قوی دی.
د وړاندوینې وړ پاسورډونو کارولو څخه ډډه وکړئ لکه 1234، 0000، یا ستاسو د زیږون نیټه یا د خپلوانو او همدارنګه د بریښنالیک، متن پیغام، یا د تلیفون غوښتنلیکونو له لارې د پاسورډ شریکولو څخه ډډه وکړئ پرته لدې چې سخته اړتیا وي ورته. که چیرې یو پاسورډ د بریښنالیک، متن پیغامونو، یا نورو تلیفون غوښتنلیکونو له لارې شریک شوی وي، دا باید یوازې د باور وړ کس سره ترسره شوی وی او د پاسورډ هر ډول نښې باید له وسیلې څخه حذف شوی اوسی، د دې لپاره چې د نورو لخوا ریکارډونو ته لاسرسی ونه اووسی هغه معلومات کم کړئ چې تاسو یې په یوه وسیله کې ذخیره کوئ هغه ته چې خورا اړین وي. د اسنادو کوډ یعنی(encryption) کول هم معلوماتو ته د ناغوښتل شوي لاسرسي مخه نیسي د ورډ فایل او نور اسناد د پاسورډ سره خوندي کیدی شي او لاسرسی یوازې ځینې اشخاصو پورې محدود کیدی شي. او کله چې دا په سمارټ فونونو یا تلیفونونو کې زیرمه شوي ډیټا ته راځي نو تاسو باید د حساسو اړیکو یا تماسونو ړنګولو یا نوم بدلولو په اړه فکر وکړئ کوم چې په تلیفون یا سیم کارت کې ثبت شوی وی. اوهمدارنګه د متن پیغامونو یا چیټ خبرو اترو حذف کولو ته پام وکړئ چې حساس وی تاسو ممکن دا خبرې اترې یو باوري بریښنالیک ته واستوئ یا د حذف کولو دمخه د کوډ شوي کلاوډ یعنی(encrypted cloud service) خدمت ته یې بیک اپ کړئ.

او همدارنګه د اسنادو او عکسونو حذف کول یو بل وړاندی شوی ګام یا طریقه ده کله چې د دې خطر شتون ولري چې وسیله به ضبط شي یا به ورک شي. که ستاسو وسیلې ونیول شي یا ضبط شي چارواکي یا نور ممکن تاسو څخه پاسورډ غوښتنه وکړی او لدی لاری کولای شی وسیلی یا په وسیله کی زیرمه شوی مینځپانګې ته لاسرسی ومومی او هم د معلوماتو د غیرکوډ(unencrypted) غوښتنه وکړی او یا داسی نور. ډیری صلاحیت لرونکی چارواکی د دې ډول پلټونو اجازه نه لری نو که چیرې وضعیت او شرایط اجازه ورکړي نو د تطبیق شوي قوانینو لټون یا قانوني مشوره ترلاسه کول مهم دي. په هغه حالتونو کې چې دا اختیارونه شتون ونلري دا مهمه ده چې آرام پاتې شئ او که ممکنه وي هڅه وکړئ په هغه دلیلونو پوه شئ چې ولې اسنادو ته د لاسرسي غوښتنه شوی ده. په ځینو قضایاوو کې له چارواکو سره همکاري نه کول ممکن د دی سبب شی چې د وسایلو ضبط، توقیف، یا هیواد ته د ننوتلو اجازه در نکړی، او غوره بدیل به ممکن همدا وی چې همکاري وکړی. نو پدی حالت تر ټولو غوره خبره همدا ده هغه څوک چې پاسورډ وردننه کوی باید مالک اووسی نه دا چې چارواکو ته یی ورکړی. په هغه مواردو کې چې پاسورډ باید ښکاره شی نو دا مهمه ده چې سمدستی وروسته له هغې پاسورډ بدل شی کله چې چارواکی وسیله بیرته درکړی.

# د بشري حقونو د مدافعینو لپاره چی د تهدید  ورته راجع وی د معلوماتو باوری سرچینی

د افغانستان څخه د وتلو لپاره د مناسبو قانونی لارو نشتوالی ځینی دیته  اړ کړی چي په سختو اقداماتو لاس پوري کړی چي له هغو قاچاقبرانو څخه د مرستي غوښتنه کوی چي ډیری وخت د زیات پیسو  غوښتنه کوی او یا هم هغه کسان چي تښتی د خطر سره یی مخامخ کوی. ځیني نور په خپل سر د تلو هڅه کړي او د مختلفو خلکو له خوا د تجد د او تاوتريخوالی سره مخ شوی دی په دې کې د سرحدی ساتونکو له خوا د اوړیدو په ځایونو کې او هم د قاچاقبرانو لخوا  پداسی شرایطو کی کله چي په یوازې توګه له پولي څخه تیریری ممکن خورا ډیر سخت وی. نړیوال او محلي سازمانونه کولی شي خلکو ته د حرکت پر وخت کې ملاتړ چمتو کړي او د سفر پیل کولو دمخه د دې سرچینو نقشه کول طرحه ریزی مهمه ده.
دا ځپرکی د افغان بشری حقونو د تهدید شوی مدافعینو لپاره د معلوماتو او ملاتړ لپاره د باور وړ ممکنه سرچیني وړاندې کوي.

## د غیر دولتي سازمانونو څخه سرچیني

ځینو رسمي او غیر دولتي ادارو د هغو افغانانو د ملاتړ لپاره پروګرامونه جوړ کړي دي چي په دریمو هیوادونو کې د بیا میشتیدنې په لټه کې دي. ځیني پروګرامونه په ځانګړې توګه د بشري حقونو د مدافعینو لپاره ډیزاین شوي او نور یې لکه خبریالان چي په خطر کې دي لاندې د سرچینو لیست دی.

### د افغان پرو بونو نوښت

د کډوالو د حقوقي ملاتړ او خوندي تګ راتګ د غیر دولتي موسسو د دې نوښت د یوې برخې په توګه د نړیوالو قوانینو شرکتونو سره په ملګرتیا کې رضاکار وکیلان د هغو افغانانو لپاره قانوني استازیتوب وړاندیز کوي چي بریتانیا ته د ننوتلو په لټه کې دي په شمول د افغان کډوالو او مرستي پالیسی طرحی او د کورنی بیا یوځای کول. هغه افغانان چي د دې ډول مشورې په لټه کې دي کولی شي اړیکه ونیسي:  case@afghanprobono.org.uk. د دې نوښت په اړه د نورو معلوماتو لپاره، لیدنه وکړئ:
https://www.safepassage.org.uk/news/2022/3/8/launch-of-the-afghan-pro-bono-initiative

### د افغانانو لپاره د  فرانسی پرو بونو اتحادیه

د غیر دولتی مؤسسو یا  NGO Safe Passage او نړیوالو حقوقي شرکتونو ترمنځ دا همکاري رضاکارا وکیلانو ته وړاندیز کوي چي د بشردوستانه ویزې او د کورنۍ د بیا یوځای کیدو غوښتنلیکونه د هغو افغانانو او کورنیو لپاره چي فرانسې ته د قانوني لارې په لټه کې دي کار وکړي. هغه افغانان چي د دی ډول مشورو په لټه کی دی  لاندی ادرس سره دی   په اړیکه کې شي:  m.albert@safepassage.fr

### د افغان کډوالو لپاره د آلمان اتحادیه

دا  د همکاري پروژه هغو افغان کډوالو ته چي د 2021 کال د اګست په میاشت کې د طالبانو له بغاوت وروسته په اروپا کې د بیا میشتیدنې په لټه کې دي د قانوني ملاتړ وړاندیز کوي. د دې پروژې د یوې برخې په توګه، د نړیوالو حقوقي

شرکتونو رضاکار وکیلان د کورنیو د بیا یوځای کیدو غوښتنلیکونو او د افغانی اشخاصو او کورنیو لپاره آلمان ته په نورو قانوني لارو چارو کار کوي. هغه افغانان چې د دا ډول مشورې په لټه کې دي لاندې آدرس سره په اړیکه کې شي: Melina.Garcin@rescue.org

## د پناه غوښتنې په اړه د اروپایی ټولنې حقوقی شبکه

د پناه غوښتنې د اروپا حقوقي شبکه هغه سازمانونه او اشخاص لیست کوي چې په اروپا کې مهاجرو او پناه غوښتونکو ته حقوقي خدمتونه او د مرستې نور ډولونه وړاندې کوي. دی شاخص یا شبکې ته د لاسرسي لپاره لیدنه وکړئ: https://ecre.org/wp-content/uploads/2021/09/ELENA-Index-Update-February-2022.pdf

## د جلاوطنۍ د مرستې لاین

دا یو هیلپ لاین دی چې د اروپایی اتحادیې او نورو INGOs لخوا د پاکستان د قانون او پالیسۍ چیمبرز په همکارۍ تمویل کیږي دا د پاکستان په اسلام اباد کې د افغان بشرى حقونو مدافعینو او یا ژونالستانو لپاره قانوني مرستې وړاندې کوي هغه چې قانوني مرستې ته اړتیا لري. د مرستې لاین ته د لاسرسي لپاره په لاندې شماره زنګ وهی :

+923080037755




## له کډوالو سره د مرستې نړیواله پروژه

د کډوالو د مرستې نړیواله پروژه (IRAP) ځینو کډوالو او بې ځایه شویو ته وړیا حقوقي مرستې برابروي IRAP د افغانانو لپاره ځانګړی سایټ وقف کړی چې په لاندې لینک کې ورته لاسرسی موندلی شئ: https://support.iraplegalinfo.org/hc/en-us/sections/4405949372948-Resources-for-Afghans

IRAP یو ځانګړی ویب فارم لري چې د هغو افغانانو ملاتړ کوی چې د ځانګړي مهاجرت ویزو ( (SIV)لپاره یې غوښتنه کړې. دوی هره میاشت اعظمي شمیر غوښتنې مني. ویب پاڼه د هرې میاشتې په لومړۍ ورځ د کابل پر وخت د ماښام په

6:30 بجو پرانیستل کیږي  تاسو کولی شئ په لاندې لینک کې ویب فارم ته لاسرسی ومومئ: https://internationalrefugeeassistanceproject.org/web.html

### د افغان کډوالو لپاره د ایټالیا پرو بونو همکاري

د غیر دولتي موسسو یا انجوګانود آزادی او مدني حقونو لپاره د ایټالیي ایتلاف (CILD) او نړیوالو حقوقي شرکتونو ترمنځ د همکارۍ پروژه چې رضاکار وکیلان په کې ښکیل دي ترڅو د کورنۍ د بیا یوځای کېدو غوښتنلیکونو او نورو قانوني لارو څخه ایټالیا ته د افغانی اشخاصو او کورنیو لپاره ملاتړ کوی. هغه افغانان چې دا ډول مشورې غواړي په دې اړیکه کې شي: fabi@cild.eu

### د مدافعینو او د لومړۍ کرښې مدافعینو ساتنه وکړ

د محافظت مدافعین د څلوریست ساعته 7/24 د مرستي لاین وړاندې کوی چې د فرنټ لاني مدافعینو لخوا پرمخ بیول کیږی او د بشری حقونو د دفاع کونکی لپاره د اړیکو یو خوندی فورم لری.
دوی کولی شي د تلیفون له لارې په +353 (0) 1 21 00 489 کې اړیکه ونیسي، د بریښنالیک له لارې contact@protectdefenders.eu، یا د لاندې اړیکو فورمو په کارولو سره:
https://protectdefenders.eu/emergency-contact/ ;
https://www.frontlinedefenders.org/secure/comment.php?l=en

### د خوندیتوب او خطر کمولو اداره (SRMO)

د خوندیتوب او خطر کمولو اداره په ټول افغانستان کې د ښځو او بشري حقونو مدافعینو لپاره د رواني ټولنیز ملاتړ خدمتونه وړاندې کوي. د مرستې ترلاسه کولو لپاره بریښنالیکونه: info@srmo.org او srmon.afg@gmail.com

### د کاناډا د بار ټولنه

هغه کسان چې د کاناډا د مهاجرت ، کډوالی  او تابعیت په پروسه کې غوښتنلیک لري یا د کاناډا د حکومت لخوا یې بلنه ترلاسه کړي ممکن د کاناډا د بار ټولنې  څخه وړیا مرسته وغواړي. د نورو معلوماتو لپاره د لاندی لنک لیدنه وکړئ:
https://www.cba.org/For-The-Public/Pro-Bono-Initiatives/Pro-Bono-Initiative-Crisis-In-Afghanistan/Pro-bono-Afghanistan-Form

### د پناه غوښتونکو او مهاجرینو لپاره د متحده ایالاتو کمیټه

د پناه غوښتونکو او مهاجرینو لپاره د متحده ایالاتو کمیټه له افغانانو سره د SIV غوښتنلیکونو کې مرسته کوي.
د اړیکو د جزیاتو لپاره لاندی لنک کی لیدنه وکړئ:

https://refugees.org/wp-content/uploads/2021/11/PALS-OnePagerDraft-ForRefugeesV1.pdf

## نړیوالې او دولتي ادارې چې د پناه غوښتونکو په ثبت او ملاتړ کې دخیلی دی

### د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنری

د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنری (UNHCR) د افغان اشخاصو او د بشري حقونو له مدافعینو سره د مرستي وړاندیز کوي او دا ملاتړ د افرادو د موقعیت پوري اړه لري. دلته د افغانستان او ګاونډیو هیوادونو لپاره د UNHCR ویب پاڼي ځیني لینکونه دي:

- د افغانستان لپاره د UNHCR د مرستي میز یا ځای ته دلته لاسرسی موندلی شئ : https://help.unhcr.org/afghanistan/support/

- ایران: په ایران کې د افغانانو لپاره د UNHCR د مرستي میزیا ځای: https://help.unhcr.org/iran/en/arrival/ په ایران کې ځینو سیمو ته د افغانانو د لاسرسي د محدودیتونو په اړه د معلوماتو لپاره، لیدنه وکړئ: https://help.unhcr.org /iran/en/what-are-the-movement-Restrictions-for-Afghan-and-Iraqi-nationals-in-iran/

- پاکستان: په پاکستان کې د افغانانو لپاره د UNHCR د مرستي میز: https://help.unhcr.org/pakistan/

- تاجکستان، ترکمنستان او ازبکستان: UNHCR په تاجکستان، ترکمنستان او ازبکستان کې د افغانانو لپاره ځانګړي مرستندویه مرکزونه نه لري. د دې هیوادونو لپاره د UNHCR عمومي سایټونو ته د لاسرسي لپاره لاندی لیدنه وکړئ: https://help.unhcr.org/centralasia/

  په تاجکستان کې د پناه غوښتني د ځرنګوالي په اړه د نورو معلوماتو لپاره، د UNHCR بروشور ته لاسرسی ومومئ: https://help.unhcr.org/centralasia/wp-content/uploads/sites/81/2021/08/Brochure-for-Asylum-Seekers- English.pdf

  په تاجکستان کې UNHCR د یو شمیر غیر دولتي موسسو یا انجوګانو سره کار کوي چې قانوني او ټولنیزې مرستي وړاندې کوي. د UNHCR او شریکو انجوګانو اړیکه په لاندی لنک موندل کیدی شي: https://help.unhcr.org/centralasia/tajikistan/

  UNHCR په ترکمنستان کې د یو شمیر نادولتي موسسو یعنی انجوګانو سره کار کوي چې د پناه غوښتني په اړه قانوني مشوري وړاندې کوي. د UNHCR او شریکو نادولتي موسسو یا انجوګانو اړیکه دلته موندلی شئ: https://help.unhcr.org/centralasia/turkmenistan/

  UNHCR په ازبکستان کې دفتر نه لري. د قزاقستان په الماتا کې د UNHCR سیمه ایز دفتردی او دا د دفتر په ازبکستان کې د خلکو د ملاتړ مسولیت لري. د ازبکستان لپاره د UNHCR سره د تماس لپاره +77019512343 ته زنګ ووهئ یا په دې بریښنالیک اړیکه ونیسی: KAZAL@unhcr.org

- ترکیه: UNHCR ترکیه د افغانانو لپاره د مرستي ځانګړی میز نه لري. د UNHCR عمومي ترکي سایټ ته د لاسرسي لپاره، لیدنه وکړئ: https://help.unhcr.org/turkey/

UNHCR ترکیه د کډوالو او پناه غوښتونکو لپاره د مشورې لیکه لري پناه غوښتونکي په عربي، فارسي، ترکي او انګلیسي ژبو مشورې ترلاسه کولای شي. او همدارنګه مشاورین د غوښتنې سره کولای شی په فرانسوي، اردو، کرد او سومالي خبرې وکړی، د مشورې لیکي ته د تلیفون له لارې 444 48 68 ته رسیدلی شئ. دا لاین د دوشنبې څخه تر پنجشنبې پورې د سهار له 9.00 څخه تر5.00 پورې او د جمعې په ورځ له 9:00 څخه تر 4.00 پورې کار کوي. او همدارنګه د مشورې لیکي ته د بریښنالیک له لارې turan@unhcr.org ته رسیدلی شي.

په ترکیه کې UNHCR د ډیری نادولتي موسسو سره یا انجوګانو سره کار کوي چې پناه غوښتونکو ته د مرستې وړاندیز کوي. د شریکو انجوګانو لپاره د اړیکو معلومات دلته موندل کیدی شي: https://help.unhcr.org/turkey/how-to-seek-help/ په ترکیه کې د پناه غوښتونکو لپاره د قانوني مرستې په اړه د معلوماتو لپاره، لیدنه وکړئ: https://help. unhcr.org/turkey/wp-content/uploads/sites/11/2021/10/Legal-Aid-Leaflet-English.pdf

### د مهاجرت نړیوال سازمان

د مهاجرت نړیوال سازمان (IOM) له افغانستان څخه بهر د افغانانو ملاتړ کوي او مختلف خدمات وړاندې کوي دلته د افغانستان په ګاونډیو هیوادونو کې د IOM سایتونو لینکونه دي:

- ایران: https://www.iom.int/countries/iran-islamic-republic
- پاکستان: https://pakistan.iom.int/iom-pakistan
- تاجکستان: https://www.iom.int/country-office/tajikistan
- ترکیه: https://turkiye.iom.int/iom-turkiye
- ترکمنستان: https://turkmenistan.iom.int/
- ازبکستان: IOM ازبکستان له افغانستان سره د مرکزي اسیا د فرعي سیمه ایزو مرستو د همغږۍ مشرې کوي کوم چې به په قزاقستان، تاجکستان، ترکمنستان او ازبکستان کې د حکومت او مدني ټولنې د ظرفیت د پیاوړتیا ملاتړ وکړي چیرې چې افغان مهاجرین حضور لري او په وخت مرستې ته اړتیا لري. د دوی سایټ ته د لاسرسي لپاره لیدنه وکړئ: https://www.iom.int/countries/uzbekistan#

### په ایران کې د پناه غوښتونکو ثبتول: د بهرنیانو او بهرنیو مهاجرینو د چارو اداره - (BAFIA) ایران

د UNHCR د ویب پاڼې له مخې د بهرنیانو او بهرنیو مهاجرینو د چارو لپاره د ایران بیورو (BAFIA) د پناه غوښتونکو د راجستر کولو او د کډوالو د وضعیت د ټاکلو مسولیت لري. اوس هم د ایران د حکومت له خوا د نویو رارسیدلو لپاره کرنلارې ټاکل کیږی. د BAFIA او په ایران کې د پناه غوښتونکي په توګه د راجستر کولو څرنګوالي په اړه د نورو معلوماتو لپاره لاندی کی لیدنه وکړئ:

https://bafia.ir/ها-استانداری

### په پاکستان کې د پناه غوښتونکو راجستریشن: SHARP او SEHER

SHARP او SEHER د پاکستان د UNHCR همکاران دي. SHARP یوه غیر انتفاعي، غیر سیاسي نادولتي موسسه یا انجو ده چې په پاکستان کې بشري حقونو ته وده ورکوي، SEHER یوه ملي غیردولتي موسسه یا انجو ده چې د ټولنې

زیان منونکو برخو ته د ځانګړي تمرکز سره د بشري بدبختیو حل کولو ته ژمن دی، دا سازمانونه د UNHCR سره د هغو افغانانو د ثبتولو سره مرسته کوي چې غواړي د دوی په دفترونو کې د پناه غوښتنه وکړي، په یاد ولرئ چې پاکستان ممکن د کډوالو د راجستریشن اجازه ورنکړي نو په دې صورت کې دا سازمانونه د اسنادو نور دولونه چمتو کوي.

- د اسلام آباد، پنجاب، آزاد جمو او کشمیر لپاره د SHARP دفتر:
  - د نورو جزیاتو لپاره ویب پاڼه وګورئ: https://sharp-pakistan.org
  - د راجستریشن لپاره د ملاقات وخت ونیسئ: +92 0512300811 یا +92 0512300812
  - د تلیفون شمیره: +92 3341112004 +92 0512300809-10
  - آدرس : B26، 687 کوڅه، G 13/3 اسلام آباد

- په سند کې د SHARP دفتر:
  - د لا زیاتو معلوماتو لپاره ویب پاڼه وګورئ: https://sharp-pakistan.org/
  - د تیلیفون شمیره: +92 3341112008 ، +92 02134811571
  - آدرس: B-204/A، او 10 بلاک، ګلشن اقبال، کراچی، کراچی ښار، سند

- د بلوچستان لپاره د SEHER دفتر:
  - د لا زیاتو معلوماتو لپاره ویب پاڼه وګورئ: https://seher.org.pk/
  - د راجستریشن لپاره د ملاقات وخت په دی شماره اړیکه ونیسئ: +92 080099880
  - د تیلیفون شمیره: +92 3337819143
  - تماس کړىنه: +92 03333512699، +92 3168606243
  - پته: B # 4، ارباب CNG ته نږدې بخاري کوڅه، سپینی سرک کویټه
  - ایمیل آدرس: seher@seher.org.pk

### په تاجکستان کې د پناه غوښتونکو ثبتول: د تابعیت ریاست او د کورنیو چارو وزارت د پاسپورت د ثبتولو په خدمت کې له کډوالو سره د کار څانګه

په تاجکستان کې د پناه غوښتنې لپاره د کورنیو چارو وزارت د پاسپورت د ثبتولو خدماتو لاندې د تابعیت او د کډوالو سره د کار څانګې سره اړیکه ونیسئ. د ډیپارټمنټ ادرس د دوشنبې 2 ابی کوڅه ده. د تلیفون له لارې پدې شماره اړیکه ونیسئ: 233 31 19, 233 31 12

### په ترکمنستان کې د پناه غوښتونکو نوم لیکنه : د مهاجرت دولتی اداره

په ترکمنستان کې د پناه غوښتنې لپاره د بهرنیو چارو د مهاجرت د خدماتو اداري سره اړیکه ونیسئ، دا اداره په لاندې ولایتونو کې موقعیت لري:

- عشق آباد: عشق آباد، 18 بترپ ترکمنستان لاره، +993 12380011
- د مریم ولایت: مریم ښار، 9 مولانیپس کوڅه؛ +993 52260291
- د لیباپ ولایت: چاردژیف ولسوالی، ګنجیشلیک بوراباپ، خودجامیرسن کلی، 2 سیهون کوڅه؛ +993 42220810
- اخال ولایت: په دې ولایت کې دوه دفترونه شتون لري: 1) اک بګدای ولسوالی، اناو ښار، 16 ویلکوف کوڅه. +993 13733184 ; 2) بالکانابات ښار، اپارتمان. 146، 42، انایف کوڅه، +993 22260527
- دشاګوز ولایت: داشوګوز ښار، 20 الخوارزمي کوڅه. +993 32255829

## بشردوستانه پیرول، بیا میشتیدنه او نور حکومتي پروګرامونه ـ د ځینو لارو په اړه معلومات چې په احتمالي توګه د بشري حقونو مدافعینو لپاره شتون لري

### کاناډا

کاناډا د افغان بشري حقونو د مدافعینو لپاره یو ځانګړی پروګرام تصویب کړی چې د کاناډا حکومت سره مرسته کړې وه د معلوماتو لپاره د لاندی لنک سخه لیدنه وکړئ:
https://www.canada.ca/en/immigration-refugees-citizenship/services/refugees/afghanistan/special-measures/immigration-program.html

همدارنګه کاناډا د هغو افغانانو لپاره یو ځانګړی پروګرام تصویب کړ چې بیا میشتیدني ته اړتیا لري. دا پروګرام د کاناډا د حکومت سره مرسته کونکو کډوالو لپاره او همدارنګه په خصوصي توګه تمویل شوي کډوالو سره مرسته کوي.
د حکومت سره مرسته کونکی کډوالو په اړه د معلوماتو لپاره د لانی لنک سخه لیدنه وکړئ:
https://www.canada.ca/en/immigration-refugees-citizenship/services/refugees/help-outside-canada/government-assisted-refugee-program.html
د مهاجرینو د پروګرام د خصوصي سپانسرشپ لپاره، لیدنه وکړئ:
https://www.canada.ca/en/immigration-refugees-citizenship/services/refugees/help-outside-canada/private-sponsorship-program/refugees-information.html

د کاناډا مهاجرت د ویب فارم یا تلیفون له لارې په +1-613-321-4243 کې اړیکه نیول کیدی شي.

### جرمنی

د آلمان حکومت د هغو محلي کارکوونکو لپاره چې له 2013 کال را په دې خوا یې د آلمان د حکومت لپاره کار کړی وی او د هغو افغانانو لپاره چې په ځانګړي خطر کې دي پروګرامونه وړاندي کوي.
د داسې پروګرامونو په اړه د معلوماتو لپاره د لاندی لنک سخه لیدنه وکړئ: https://www.auswaertiges-amt.de/en/visa-service/konsularisches/afg?openAccordionId=item-2479618-2-panel

### انګلستان

د 2021 په اپریل کې د دفاع سکرتر او د کورنیو چارو سکرتر د افغانستان د ځای پرځای کولو او مرستي پالیسي (ARAP) پیل کړه، دا برنامه په افغانستان کې د ځایی کارمندانو یا پخوانیو کارمندانو ته د ځای په ځای کولو یا نورو مرستو وړاندیز کوي ترڅو په افغانستان کې بدلیدونکي وضعیت منعکس کړي، دا پروګرام خلاص پاتې دی او خلک کولی شي د آنلاین غوښتنلیک فارم په کارولو سره درخواست وکړي، او خلک کولی شي د افغانستان په ګډون د هر هیواد څخه غوښتنه وکړي او د دوی د دندې وضعیت، رتبه یا رول، یا د خدمت موده په پام کې نیولو پرته. د ARAP په اړه د نورو معلوماتو لپاره مهرباني وکړئ د لاندی لنک سخه لیدنه وکړئ:
https://www.gov.uk/government/publications/afghan-relocations-and-assistance-policy/afghan-relocations-and-assistance-policy-information-and-guidance

انګلستان د افغان اتباعو د بیا میشتیدنې سکیم (ACRS) هم پرانستې دی، دا پروګرام د هغو کسانو لپاره پرانستل شوی چې په افغانستان کې د انګلستان له هڅو سره مرسته کوې او د زیان منونکو خلکو لپاره په شمول د خطر سره مخ میرمنې او انجونې، او د اقلیتونو ډلو غړي چې په خطر کې دي او همدارنګه (د قومي او مذهبي اقلیتونو او +LGBT په ګډون).
دا برنامه درې لارې لري چې له هغې څخه دریمه لاره د سپتمبر 2022 کال راهیسې شتون لري، Pathway 2 یا دویمه لاره د هغو زیان منونکو کډوالو لپاره ده چې برتانیا د بیا استوګنې په خاطر له افغانستانه تښتیدلې دي او دا د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنرۍ (UNHCR) لخوا د راجع کولو لپاره پرانستل شوی.
په اوس وخت کې Pathway 3 یا دریمه لاره بنده ده دا لاره د خطر سره دهغو کسانو لپاره د بیا میشتیدنې لاره وړاندې کوی چې په افغانستان کې د بریتانیا او نړیوالې ټولنې د هڅو ملاتړ کړی وی او همدارنګه هغه کسان چې په ځانګړې توګه زیانمن دی لکه ښځې او نجونې چې په خطر کې دی او د اقلیتي ډلو غړی، Pathway 3 یا دریمه لاره د 2022 کال په جون کې یوازې د خطر سره د برتانوي شورا او ګاردا ورلډ قراردادیانو او د چیونیګ پخوانیو زده کونکو لپاره پرانستل شوې وه، او دا لاره د 2022 کال د اګست په 16 مه وتړل شوه او په راتلونکي کال کې به د افغانانو د نورو مشخصو ډلو لپاره چې په خطر کې وي پرانستل شي. د دې لارې په اړه د معلوماتو لپاره د لاندې لنک سخه لیدنه وکړی:

[https://www.gov.uk/guidance/afghan-citizens-resettlement-scheme-pathway-3-eligibility-for-british-council-and-gardaworld-contractors-and-chevening-alumni](https://www.gov.uk/guidance/afghan-citizens-resettlement-scheme-pathway-3-eligibility-for-british-council-and-gardaworld-contractors-and-chevening-alumni)

## متحده ایالات

د افغان بشري حقونو مدافعینو لپاره چې د متحده ایالاتو د حکومت لخوا یا په استازیتوب ګمارل شوي وو متحده ایالاتو د ځانګړي مهاجرت ویزې پروګرام تصویب کړی، د پروګرام په اړه د معلوماتو لپاره دلاندې لنک سخه لیدنه وکړئ:

[Special Immigrant Visas for Afghans - Who Were Employed by/on Behalf of the US Government](Special Immigrant Visas for Afghans - Who Were Employed by/on Behalf of the US Government)

د هغه چا لپاره چې د ځانګړي مهاجرت ویزې لپاره تصویب شوی غوښتنلیک لري دی دیته ایمیل وکړی NVCSIV@state.gov یا 1-603-334-0828 شمارې ته زنګ ووهئ.

د افغانستان د بشري حقونو مدافعین هم کیدای شي د متحده ایالاتو د مهاجرینو د داخلي پروګرام (USRAP) لپاره د درخواست کولو وړ وي، د افرادو درې کټګورۍ شتون لري چې کیدای شي USRAP ته لاسرسی ومومي چې د "لومړیتوبونو" په نوم پیژندل کیږي:

- اول لومړیتوب (P1): انفرادي قضیې د ټاکل شوي ادارو ( سفارت، ټاکل شوي نادولتي موسسې یا UNHCR) لخوا د دوی د شرایطو او د بیا میشتیدنې ښکاره اړتیا له مخې پروګرام ته راجع کیږي.
- دویم لومړیتوب (P2): د ځانګړو اندیښنو ګروپونه چې د بهرنیو چارو وزارت لخوا د دوی د شرایطو او د بیا میشتیدنې ظاهري اړتیا له مخې دی پروګرام ته د لاسرسي په توګه نومول شوي، د افغان اتباعو لپاره د P-2 پروګرام په اړه د ځانګړو معلوماتو لپاره، مهرباني وکړئ د کډوالو د پروسس مرکز ویب پاڼې ته مراجعه وکړئ [Refugee Processing Center's SIV/Afghan P-2 webpage](Refugee Processing Center's SIV/Afghan P-2 webpage).
- دریم لومړیتوب (P3): انفرادي قضیو ته د کورنۍ غړو سره چې دمخه په متحده ایالاتو کې دی د بیا یوځای کیدو موخو لپاره لاسرسی ورکړل شوی

یوځل چې غوښتونکي USRAP ته لاسرسی ومومي دوی د ورته پروسس مرحلو څخه تیریږي پشمول د پراخه امنیت ارزونې، د افغانانو لپاره د USRAP په اړه د معلوماتو لپاره دلانی لنک سخه لیدنه وکړئ: https://www.uscis.gov/humanitarian/information-for-afghan-nationals

د هغو کسانو لپاره چې په دی پروګرام کې دی او پوښتنې لری پدی پته ایمیل وکړی: refugeeaffairsinquiries@uscis.dhs.gov

د افغان اتباعو لپاره د بشردوستانه پیرول لپاره د متحده ایالاتو پروګرام هم د بشري حقونو د مدافعینو لپاره یو لاره دی، بشردوستانه پیرول د قضیې په اساس مجاز دی او د پیرول موده مشخص کوي، د افغانانو لپاره د بشردوستانه پارول په اړه معلومات په لاندی لنک شتون لري:
https://www.uscis.gov/humanitarian/humanitarian-parole/information-for-afghan-nationals-on-requests-to-uscis-for-humanitarian-parole

[1] This guide is not aimed to advise on digital safety and security. The tips included in this section are limited to strategies to access data after crossing a border.

[1] People carrying visas may also be denied access to a country as the authorities at the border have the final say on who can cross a border. See: Omar, *Afghans in limbo as Iran bans them from entering even with legal documents*, AL-MASQUAREQ (Jan. 11, 2022), https://almashareq.com/en_GB/articles/cnmi_am/features/2022/01/11/feature-03.

[1] RFE/RL's Radio Azadi, *Escaping Afghanistan: People – Smuggling Thrives On Bribes To Taliban*, GANDHARA (May 27, 2022), https://gandhara.rferl.org/a/afghanistan-people-smuggling-taliban-bribes/31872064.html; Saqalain Eqbal, *Turkey Deports 136 Undocumented Afghan Migrants to the Taliban-Controlled Afghanistan*, THE KHAAMA PRESS (Jun. 25, 2022), https://www.khaama.com/turkey-deports-136-undocumented-afghan-migrants-to-the-taliban-controlled-afghanistan-36723/

[1] Correspondent, *Afghan nationals travelling on forged documents arrested at Islamabad airport*, THE EXPRESS TRIBUNE (Nov. 21, 2021), https://tribune.com.pk/story/2330440/afghan-nationals-travelling-on-forged-documents-arrested-at-islamabad-airport; Editor, *Authorities ban without visa arrivals from Afghanistan at Torkham*, TRIBAL NEWS NETWORK (Apr. 6, 2022), https://tnnenglish.com/authorities-ban-without-visa-arrivals-from-afghanistan-at-torkham/#:~:text=Pakistani%20authorities%20have%20banned%20the,been%20shuttered%20some%20days%20back; Chaheti Singh Sisodia, *Illegal Afghan migrants deported to Afghanistan by Turkey*, WION (Jun. 26, 2022), https://www.wionews.com/world/illegal-afghan-migrants-deported-to-afghanistan-by-turkey-491967

[1] Kanika Gupta, *Afghan black market for visas thrives as embassies stay shut*, FINANTIAL TIMES (Nov. 17, 2021), https://www.ft.com/content/72ab8c3d-fa23-47bd-a564-a9dfae30135c

[1] Admin, *Taliban Passport Authority: Profiteers distribute fake passport booklets to people in exchange for money*, TOLQUN NEWS (May 23, 2022), https://tolqunnews.com/2022/05/23/taliban-passport-authority-profiteers-distribute-fake-passport-booklets-to-people-in-exchange-for-money/

[1] For dedicated sites and resources on how to avoid fraud schemes and scams, visit: *Supporting Afghan Nationals: Avoid becoming a victim of immigration fraud*, GOVERNMENT OF CANADA (Jun. 3, 2022), https://www.canada.ca/en/immigration-refugees-citizenship/services/refugees/afghanistan/fraud.html; *Fight Notario Fraud. Public Service Announcement: Tips to Avoid Immigration Scams*, AMERICAN BAR ASSOCIATION, see video available in Pashto at https://www.youtube.com/watch?v=W7hF0VphL78&t=15s and video available in Dari at https://www.youtube.com/watch?v=DCIAWiseH8M ; *Internet Scams Warning*, US EMBASSY IN AFGHANISTAN: https://af.usembassy.gov/u-s-citizen-services/scams/

[1] For more information on safety and security of devices, visit: *How to delete your digital history*, HUMAN RIGHTS FIRST, https://www.humanrightsfirst.org/sites/default/files/How%20to%20Delete%20Your%20Digital%20History%20-%20Updated%208.20.21.pdf; *Steps to improve your online safety in Afghanistan*, ACCESS NOW (Aug. 17, 2021), (available in Dari and Pashto) https://www.accessnow.org/online-safety-resources-afghanistan/ For help on digital security, visit: *Digital Security Helpline*, ACCESS NOW, https://www.accessnow.org/help/

[1] Esther Gómez, *Human trafficking gangs double their prices in Afghanistan*, ATALAYAR (Feb. 17, 2022), https://atalayar.com/en/content/human-trafficking-gangs-double-their-prices-afghanistan; *Human smuggling networks in Afghanistan: exploitation of citizens' search for peace*, AL-ESTIKLAL NEWSPAPER (Jan. 14, 2022), https://www.alestiklal.net/en/print/11884/C7; *Afghanistan Facing Famine. UN, World Bank, US Should Adjust Sanctions, Economic Policies*, HUMAN RIGHTS WATCH (Nov. 11, 2022), https://www.hrw.org/news/2021/11/11/afghanistan-facing-famine

[1] *European police arrest 'high-value' smugglers accused of trafficking Afghans, Pakistanis, Syrians*, ARAB NEWS (Feb, 1, 2022), https://www.arabnews.pk/node/2096021/pakistan; RFE/RL's Radio Azadi, *Escaping Afghanistan: People – Smuggling Thrives On Bribes To Taliban*, GANDHARA (May 27, 2022), https://gandhara.rferl.org/a/afghanistan-people-smuggling-taliban-bribes/31872064.html; Emma Batha and Bahaar Joya, *Afghan smugglers hike process, expand networks after Taliban takeove*r, THOMSON REUTERS FOUNDATION NEWS (Feb. 14, 2022), https://news.trust.org/item/20220211104838-5k7u4/; Christina Goldbaum, *The Smugglers' Paradise of Afghanistan*, THE NEW YORK TIMES (Mar. 10, 2022), https://www.nytimes.com/2022/03/08/world/asia/smugglers-afghanistan.html; Sinan Tavsan, *Afghan refugees get cold welcome in Turkey after perilous journey*, NIKKEI ASIA (Oct. 1, 2021), https://asia.nikkei.com/Politics/International-relations/Afghanistan-turmoil/Afghan-refugees-get-cold-welcome-in-Turkey-after-perilous-journey; Alba Cambeiro, *Despite Turkey's Tough Stance, Afghans Refugees Flood In*, NEW LINES (Oct. 21, 2021), https://newlinesmag.com/photo-essays/despite-turkeys-tough-stance-afghan-refugees-flood-in/

[1] RFE/RL's Radio Azadi, *Escaping Afghanistan: People – Smuggling Thrives On Bribes To Taliban*, GANDHARA (May 27, 2022), https://gandhara.rferl.org/a/afghanistan-people-smuggling-taliban-bribes/31872064.html; Maziar Motamedi, *What does the future hold for Afghan refugees in Iran?*, ALJAZEERA (Jun. 12, 2022), https://www.aljazeera.com/news/2022/6/12/what-does-the-future-hold-for-afghan-refugees-in-iran; Indrika Ratwatte, *UNHCR: Afghans struggle to seek safety as borders remain shut to most*, UNHCR (Dec. 1, 2021), https://www.unhcr.org/news/press/2021/12/61a72ed34/news-comment-unhcr-afghans-struggle-seek-safety-borders-remain-shut.html; *Afghanistan Facing Famine. UN, World Bank, US Should Adjust Sanctions, Economic Policies*, HUMAN RIGHTS WATCH (Nov. 11, 2022), https://www.hrw.org/news/2021/11/11/afghanistan-facing-famine

[1] Rusen Takva, *Traffickers use refugees to smuggle drugs from Iran to Turkey*, AL-MONITOR (Jun. 1, 2022), https://www.al-monitor.com/originals/2022/05/traffickers-use-refugees-smuggle-drugs-iran-turkey

[1] Abubakar Siddique, *'No Reason To Stay': Taliban Repression, Economic Collapse Accelerate Exodus From Afghanistan*, GANDHARA (Dec. 2, 2021), https://gandhara.rferl.org/a/afghanistan-exodus-taliban-repression-economy/31590988.html; Deepa Parent, *'I had no hole left': Ex-NATO contractor forced to walk across Afghan border*, OPEN DEMOCRACY (Jan. 24, 2022), https://www.opendemocracy.net/en/north-africa-west-asia/i-had-no-hope-left-ex-nato-contractor-forced-to-walk-across-afghan-border/

[1] For more information on Canadian pathways and resources for Afghans in Canada, visit: https://www1.nyc.gov/site/immigrants/help/legal-services/afghanistan-resources.page

[1] For more information on the US pathways and resources for Afghans in the US, visit: https://www1.nyc.gov/site/immigrants/help/legal-services/afghanistan-resources.page